# Treasure of RCC bridges
# Culverts and
# Retaining walls




## داوسپنیزکانکریټی پلونو , پلچکونو
## اواستنــــــــــــادی دیوالونو دیزائن

---

Compiled by: Engineer Muhammad Hamed"Omer"

Kabul

9/30/2009

Download From: Aghalibrary.com

# فهـــــــــــــــــــــــــــــــــــــرست


| شماره | عنـــــــــــــــــــــــــوان | صفحه |
|---|---|---|
| .1 | دســــــــــــــــــــــرک دپوښښ ډیزاین ............................ | (3 - 6) |
| .2 | دســــــــــــــــــــــرک دډیزاین په اړه مثالونه................................ | (7) |
| .3 | دپـــــــــــــــلچکونوپه باره کی عمومی معلومات ................................ | ( 8-9) |
| .4 | دپـــــــــــــــــــلچکونو په اړه مثالونه ................................ | (12-3) |
| .5 | دپـــــــــــــــــــــــلچکونو برآورد................................ | (17-12) |
| .6 | داوسپنیزکانکریټی پـــــــل په باره کی عمومی معلومات.............................. | (22-18) |
| .7 | داوسپنیزکانکریټی پـــــــــــــل په اړه مثالونه ................................ | (36-23) |
| .8 | داستنـــــــــــادی دیوالونو په باره کی عمومی معلومات ............................ | (40-23) |
| .9 | دوزنی استنـــــــــــــــــــادی دیوالونو ډیزاین ............................. | (57-41) |
| .10 | دغیراوسپنیزوکانکریټی کنسولی استنادی دیوالونو ډیزاین .............................. | (63-57) |
| .11 | داوسپنیزکانکریټی کنسولی استنـــــــادی دیوالونوډیزاین ............................. | (69-63) |
| .12 | مأخـــــــــــــــــــــــــــــــــذونه ................................ | (80) |


.

Compiled and edited by:
Engineer Mohammad Hamid “Omer “wardak

Email contact: MHO-H @Yahoo.com_+0093-0796889727

coprights © 2009 - All rights reserved

Comments and enquiries:

For general and technical enquiries

Please contact Eng .M. Hamed “Omer”

نوټ :

پدی کتاب کی یوازی عملی مثالونه حل شوی دی اوپه ډیروجزئیاتو باندی بحث نه دی شوی اوهدف ئی یوازی اویوازی دمحصلینو اوځوانانو مسلکی لاره ده .ځکه دابه ځوانوانجینیراتو ته ډیره گرانه وی چی مختلف کتابونه ولولی اوبیاډیزاین ته مخه کړی نو ددی کتاب په مرسته به ځوان انجینیران وکولای شی چی سرک , پل , پلچک اواستنادی دیوالونه ډیزاین کړی .

دیادولووړده چی ددی کتاب ټول مثالونه عددی دی اوځوان انجینیران به وکولای شی دهغه څخه په آسانه توگه استفاده وکړی.

انجینیرمحمدحامد"عمر"

# لمړی فصل

## (design of pavement structure)دسرک دپوښښ ډیزاین

سرک دهغه خطی (افقی ) ساختمان څخه عبارت دی چی دعراده جاتو , انسانانو اوترافیکو دتگ راتگ لپاره دمشخصو نقطو دپیوستون دنده په غاړه لری .
دسرک په مسیربانڍی دعبوری وسایلو تگ اوراتگ ته دترافیکو حجم وایی .
دسرک دپوښښ دډیزاین لپاره باید لاندی عوامل په نظرکی ونیول شی :
✓ دموادوځرنګوالی . دځمکی عوارض , دمنطقی اقلیم , جیولوجیکی اوهایدرولوژیکی عوامل .
✓ اقتصادی مسائل , دترافیکو حجم , دځمکو ملکیت اوداسی نورعوامل .

### : (pavement structure) دپوښښ ساختمان

دسرک پوښښ دمختلفو طبقو څخه جوړشویدی .چی دهغه نوعیت دسرک په صنف , دترافیکو په حجم اوداسی نوروعواملو پوری اړه لری .
دلته یوازی دسرک ارتجاعی پوښښ په لنډ ډول تشریح کوو :
دسرک ارتجاعی پوښښ دلاندی طبقو څخه جوړشویدی :
1 – اوله طبقه ( sub base course) .
2 – دوهمه طبقه ( base course) .
3 – دریمه طبقه ( binder course) .
4 – څلورمه طبقه ( wearing course) .
کچیری دریمه طبقه له دوویا زیاتوطبقو نه تشکیل شوی وی نواوله طبقه binder course اونوری طبقی دوسطی طبقو په نوم یادیږی .




### :(thickness of designe ) دسرک دډیزاین ضخامت

دسرک لپاره دډیزاین ضخامت (ډبلی ) دځمکی دطبعی طبقی د CBR(California Bearing Ratio ) دآزموینو په مرسته په لاس راځی چی ددی آزموینو په نتیجه کی یو گراف لاس ته راغلی اوکولای شو ددی گراف په مرسته دترافیکو دحجم مطابق دسرک ضخامت وټاکو . گراف په لاندی ډول دی :
ددی گراف څخه داستفادی طریقه هم ښودل شویده .




1 – شکل ( دسرک ضخامت ټاکلو لپاره دCBR گراف)

## دترافیکو برآورد(traffic estimation) :

دسرک دډیزاین لپاره دستندرد لاریو بارپه لاندی ډول په لاس راوړو:

- دسرک ددواړوطرفو لپاره ورځنی ابتدایی موټرونه(average daily trucks) برآوردکوو .(بایدپه پام کی ونیسو کوم موټرونه چی وزن یی له 1,5Ton څخه زیات وی په غټو موټرونوکی حسابیږی ).
- دغټوموټرونو دزیاتوالی فیصدی حسابوو .
- دفیصدی له مخی دغټوموټرونو ابتدایی کلنی اندازه دلاندی رابطی په مرسته پیداکوو :

$$V_0=\frac{ADT\cdot 365\cdot P_{tr}\cdot 0,5}{100}\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots(1-1)$$

په پورته رابطه کی :

ADT - دغټوموټرونوورځنی اوسطه اندازه ( average daily trucks) .

$P_{tr}$ - دغټوموټرونودزیاتوالی فیصدی .

365 - دیوه کال دورځواندازه .

اوس نوکولای شو چی دغټوموټرونومجموعی تعداد دیوه طرف لپاره دلاندی رابطی په مرسته په لاس راوړو:

$$V_c=\frac{V_0\cdot[(1+r)^X-1]}{r}\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots(1-2)$$

په پورته رابطه کی :

$V_0$ - دفیصدی له مخی دغټوموټرونو ابتدایی کلنی اندازه

r - دموټرونو دزیاتوالی کلنی معیار.

x - دډیزاین عمر(معمولا" 10 یا 20 کاله دی ).

اوس نودډیزاین دعمرلپاره دسرک دیوه لین (یوه طرف ) دټولو موټرونو (لوی او کوچنی ) تعداد په لاندی ډول په لاس راوړو:

$$V_X=V_0(1+r)^X\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots\ldots(1-3)$$

په پورته رابطه کی :

$V_0$ - ابتدایی ورځنی موټرونه .
r - دزیاتوالی کلنی معیار.
X – دډیزاین عمر.
دموټرونو دمساوی والی عامل برآورد :
دموټرونو دمساوی والی فکتوردپیداکولو لپاره دلاندی جدول څخه استفاده کوو (البته کچیری سروی موجوده نه وی )

1 -1 جدول دلاریو دمساوی والی ضریب

| ددرندو لاریو انتخابی فیصدی | (0-15)% | | (16-50)% | (51-100)% |
|---|---|---|---|---|
| دمساوی والی ضریب | محلی 1,2 | لاری 2,0 | 3,0 | 3,7 |

دمجموعی ستندرداکسل بارمعادل:

$$ESA=V_C \cdot X \cdot e \cdots\cdots\cdots\cdots\cdots\cdots(1-4)$$

نوټ : کومی لاری چی دری لینه ولری نودترافیکو اندازه (برآورد ) د80% په اندازه دADT ده(دری لینه لاری د ADT 80% تشکیلوی ).

دیوساعت لپاره دترافیکو (موټرونو ) اعظمی حجم په لاندی ډول پیداکوو :

$$C=I \cdot R \cdot T \cdots\cdots\cdots\cdots\cdots\cdots(1-5)$$

په پورته رابطه کی :
I-دیوساعت حقیقی ظرفیت R - دسرک فکتور T - دترافیکو دکموالی ضریب .
دیوساعت حقیقی ظرفیت دلاندی جدول څخه نظردسرک صنف ته انتخابوو.
2 -2 جدول( دیوساعت حقیقی ظرفیت نظردسرک صنف ته) .

| دسرک کلاس اوډول | Passenger vhicle units per hour |
|---|---|
| له دریو څخه زیات لینه | 2000 per hour |
| دوه لینه | 2000 for tow ways |
| دری لینه | 4000 for tow sides |

دسرک دکموالی ضریب دسرک داوړو اودهغه دمنځنی حیصی لپاره دلاندی جدول څخه انتخابوو :
3 -3 جدول (دسرک داوړی اوعبوری قسمت اندازه ) .

| دمابینی قسمت عرض carriage way ) (width | دسرک داوړی (پیاده رو) عرض shoulder width | | | |
|---|---|---|---|---|
| | 2,0m | 1,5m | 1,25m | 1m |
| 7,5m | 1,00 | 0,97 | 0,94 | 0,90 |
| 7,0m | 0,88 | 0,86 | 0,83 | 0,79 |
| 6,0m | 0,81 | 0,78 | 0,76 | 0,73 |
| 5,0m | 0,72 | 0,70 | 0,67 | 0,64 |

دترافیکو دکموالی ضریب دځمکی په عوارضو پوری اړه لری اودلاندی جدول څخه یی انتخابوو :

4 -4 جدول (دترافیکو دکموالی ضریب ).

| دځمکی شکل اونوعیت | ضریب |
|---|---|
| هواره | T=100/(100+Pc) |
| تپه یی | T=100/(100+2Pc) |
| غرنۍ | T=100/(100+5Pc) |

ډیزاین :

دCBR آزموینوته په کتنه سره دسرک ټول ژوروالی (عمق ) د(1- شکل ) گراف څخه تعینوو.

وروسته دمختلفو طبقو ضخامت (ډبلی ) دلاندی رابطی په مرسته پیداکوو:

$$T_A = a_1 D_1 + a_2 D_2 + a_3 D_3 + \cdots + a_n D_n \cdots\cdots\cdots\cdots (1-6)$$

په پورته رابطه کی :

$a_3, a_2, a_1$ - دسرک دهری طبقی ضریبونه دی چی دلاندی جدول څخه دهغه قیمت ټاکو.

5 – 5 جدول(دسرک د طبقوضریب )

| اجزاء (component ) | دطبقی نوعیت (type of layer ) | خواص (property ) | ضریب (coefficient) |
|---|---|---|---|
| Wearing & binder course | Asphalt concrete | | 1,00 |
| Base course | Dense bituminuos Macadam | Type 1 : stability>400Kg | 0,80 |
| | | Type 2 : stability>300Kg | 0,55 |
| | Cement stabilize | Unconfined compressive strength (7days) 30-40 /cm2 | 0,45 |
| | Mechanically stabilized crushed aggregate | CBR≥80% | 0,32 |
| Sub base | Sand , late rite etc | CBR≥20% | 0,32 |
| | Crushed aggregate | CBR≥30% | 0,25 |
| | Cement stabilized | CBR≥60% | 0,28 |

$D_3, D_2, D_1$ - دهری طبقی ضخامتونه دی چی دلاندی جدول څخه دهغه قیمت ټاکو.

2 -2 جدول (دطبقو کمترین ضخامت )

| Type of layer | | Minimum thickness |
|---|---|---|
| Wearing course | | 4cm |
| Base course | | 5cm |
| Base course | bituminuous | 5cm |
| | Wet mix | 10cm |
| | Cement treated | 10cm |
| Sub base course | granular | 10cm |
| | Cement treated | 15cm |

مثال :
دلاندی ارقامو په مرسته دسرک پوښښ ډیزاین کړی ؟
دسرک عرض 7,5m , دترافیکو ورځنی حجم (ADT) 6600 , دغټوموټرو فیصدی 15%
دزیاتوالی کلنی اندازه 7% , دځمکی شکل تپه ای دی .
حل :دیوه طرف لپاره دغټوموټرونواندازه پیداکوو:

$$V_0=\frac{ADT\cdot 365\cdot P_{tr}\cdot 0,5}{100}\Rightarrow\frac{6600\cdot 365\cdot 15\%\cdot 0,5}{100}=181000$$

دسرک دډیزاین عمرلس کاله په نظرکی نیسو اودلس کالو لپاره ددی موټرونو تعدادمساوی دی په:

$$V_c=\frac{V_0\cdot[(1+r)^X-1]}{r}=\frac{181000\cdot[(1+0,07)^{10}-1]}{0,07}=2,5\cdot 10^6\,\text{million}$$

دستندرداکسل(لاریو) مجموعه مساوی ده په :

$$ESA=2\cdot 2,5\cdot 10^6=5\cdot 10^6\,\text{million}$$

دموټروساعتوارحجم مساوی دی په :

$$C=I\cdot R\cdot T=1000\cdot 1,0\cdot 0,77=770\ \text{vhicles per hour}$$

دموټرونو ساعتوارظرفیت دورځنی ظرفیت 10 فیصده تشکلیوی نولروچی :

$$C=7700\ \text{vhicles/day/lane}$$

دموټروورځنی اندازه په لاندی ډول ده :

$$V=\frac{6600\cdot(1+0,07)10}{2}=6490\text{veh/day/lane}$$

داول شکل څخه نظردموټرو مجموعی ته دسرک ضخامت په لاس راوړو یعنی :

$$5\cdot 10^6\Rightarrow TA=26cm$$

دهری طبقی ضخامت د(5 -5 ) جدول څخه په لاندی ډول ټاکو:

| طبقه | مواد | ضریب | کوچنی ترین ضخامت |
|---|---|---|---|
| $a_1$ | اسفالټ کانکریټ | 1,00 | 9cm |
| $a_2$ | په میخانیکی ډول مات شوی کرش (جغل ) | 0,32 | 10cm |
| $a_3$ | ریگ | 0,23 | 10cm |

نولروچی :

| $D_1$ | $D_2$ | $D_3$ |
|---|---|---|
| 12,5cm | 18cm | 20cm |

$$T_A=a_1D_1+a_2D_2+a_3D_3+\cdots+a_nD_n$$

$$T_A=1,0\cdot 12,5+0,32\cdot 18+0,23\cdot 20=25,36\,cm<TA$$

لدی ځایه دسرک دطبقاتو ضخامت په لاندی ډول دی :

Wearing course: 5cm
Binder course: 10cm
Base: 20cm
Sab base course: 20cm

# دوهم فصل

# پلچکونه (Culverts)

عمومی معلومات :

دانجينيرۍ مصنوعی ساختمان په سرک, کانال , خوړاوتنگی دری باندی دپلچک څخه عبارت دیٔ چی دسطحی (په بعضو حالاتو کی دځمکی لاندی)اوبو, عراده جاتو, اوپايپ لاينونو دمصؤن اوبی خطره تيريدو لپاره دنوموړوساختمانو په مسيرونوکی جوړيږی. اوبلآخره ددی ساختمانودمسيرونوادامه تشکيلوی . ديادولو وړده چی پلچکونه دسرک خاورينه تنه نه قطع کوی .

دپلچک ابعادپه لاندی عواملوپوری اړه لری :

هايدرولوژيکی عوامل ( داوبومسيراودهغه دجريان مقداراواندازه) .

دسرک (په بعضی حالاتوکی د کانال اوپايپ لاين) مسيراودهغه عرض .

دخاورو ارتفاع په پلچک باندی .

توپوگرافيکی عوامل .

په پلچک کی دموادو استعمال اوداسی نوروعوامل .

په پلچک باندی داضافی خاورواندازه (داضافی خاوروعمق )بايد دنيم مترڅخه کم نه وی اوهمدارنگه د پلچک دپوښښ عرضی ميل د2% څخه کم نه وی .

دپلچکونو هايدروليکی رژيم :

په پلچکونوکی معمولا" دری ډوله هايدروليکی رژيمونه وجود لری اونظرهمدغه رژيمونوته دپلچک نوعيت انتخابيږی چی عبارت دی له :

- فشاری رژيم .
- نيمه فشاری رژيم .
- غير فشاری رژيم .

فشاری رژيم : دپلچکونودهغه حالت څخه عبارت دیٔ چی دپلچک په مجراء کی خلاء وجودونه لری يعنی دپلچک مکمله مقطع داوبولاندی وی , او داوبو تريوه مکمل ارتفاعی فشارلاندی قرارولری . چی پدی حالت کی دپلچک په مخکينۍ برخه کی دابودډپ کيدو په خاطرهغه ته له 20% څخه زيات ميل دوروستنی قسمت په پرتله ورکوی .

غير فشاری رژيم : دپلچک دهغه حالت څخه عبارت دیٔ چی دهغه ټوله مقطع داوبولاندی نه وی بلکی د هغه په مجراء کی کاملا" آذاده فضاء موجوده وی .

نيمه فشاری رژيم : دهغه حالت څخه عبارت دیٔ چی داوبودډپ کيدوگمان تر_20% ارتفاع پوری موجودوی ليکن دپلچک په مقطع کی آذاده سطح کاملا" موجوده وی .

دپلچکونو دا رژيمونه نظردهغه د طرحريزۍ غوښتنو(دځمکی نوعيت , دمجراء شکل , دسرک دډکولوارتفاع اوداسی نورو)ته انتخابيږي .دپلچکونودطرحريزۍ په وخت کی بايد لاندی ټکی په نظرکی ونيول شی :

فشاري رژيم د زراعتی او مسکونی منطقولپاره نه توصيه کيږی . بلکی په ژورو اوکم عرضه مجراگانو , غيرمسکونی اوزراعتی ساحوکی اقتصادی اودتوصيی وړدی .

ديادولو وړده چی په فشاری رژيم کی خروجی سرعت ( دخروجی مجراء دمينځلوسرعت ) کنترولول ضروری دی ترڅوله يو خوادبحرانی سرعت څخه تجاوزونه کړی اوله بلی خوامجراءونه مينځل شی .(خروجی سرعت بايد د6مترفی ثانيه څخه زيات نه شی ).

دخاورينی تنی دجانبی ميلانونودتحکيم کاریٔ عرض دپلچک دبغلی ديوالونو دواړه طرفو ته د2 متره په اندازه نيول کيږی .

دپلچکونو ديوالونه اوتهداب معمولا"ډبرين وی اويوازی دهغه دپوښښ تخته داوسپنيزوکانکريتو څخه په نظرکی نيسی .

دپوښښ دتختی ميلان د % ( 4 ÷ 2 )په انتروال کی دواړه طرفوته په نظرکی نيسی اودهغه په سردلنده بل ضد مواد استعمالوی . دتهداب لاندی د10 سانتی مترپه اندازه ريگی يا PCCطبقه په نظرکی نيول کيږی .

دپلچکونو مقاومت دترافیکو په حجم , دعراده جاتوپه نوعیت , داوبو په مقداراودسرک په کلاس (صنف) پوری اړه لری .

## دپلچکونوډولونه( types of culverts) :

پلچکونه معمولا" په څلورډوله دی:

**1** – هغه پلچک چی پوښښ ئی دهوارسلب په شکل وی (سلب ډوله پلچک Slab Culvert) .
2 – هغه پلچک چی پوښښ ئی دکمان په شکل وی (کمان ډوله پلچک Arch Culvert) .
3 – بکس ډوله پلچک ( Box Culvert) .
4 – پایپ ډوله پلچک( Pipe Culvert) .

دپلچکونو اجزاوی په لاندی ډول دی :

1 – دپلچکونو تهداب ( Foundation).
2 – دپلچکونو پائی (اتکائی دیوالونه یاقنداقونه Abutment).
3 – گلگیری یاحفاظتی دیوالونه یا دماغه (wing walls).
4 – دپوښښ طبقه چی معمولا دکمان یاسلب په شکل وی ( pavement course).
6 – دپلچکونولاندینی فرش , دخولی اوخروجی لمنی .
7 – دپلچک په خروجی لمن کی داوبود انرژئ کمولو لپاره ساختمانونه .(څاه یا اوبه گرځوونکی دیوالونه )

هرپلچک څلور گلگیری (نیوونکی ) دیوالونه لری چی دادیوالونه له پول خوا دپاسنیوخاورودښویدو څخه مخنیوی کوی اوله بلی خوااوبه دپلچک اصلی مجراء ته هدایت کوی . چی دادیوالونه معمولا دخښتو اوډبروڅخه دکانکریټی مصالحی په مرسته جوړیږی , ددغه دیوال ضخامت په پورته حیصه کی د 30-40 cm په نظرکی نیول کیږی . ددیوال اوږدوالی داتکاء څخه د H(2 – 1,5 ) په اندازه نیسو.

## 1 – سلب ډوله پلچک(Slab Culvert):

هغه پلچک ته وائی چی وزن برداره عنصرئی سلب وی او دمستطیلی یا مربعی مقطع لرونکی وی.لاندی شکل ته وگوری :




1 – شکل . سلب ډوله پلچک

دسلب ډوله پلچک څخه په هغه ځایونو کی جوړیږی چی داساس خاوره نسبتا محکمه وی او همدارنگه د کانال اویاویالی ارتفاع د سرک له سطحی څخه زیاته نه وی اوپه هغه منطقو کی چی ډبری زیاتی ولری لانورهم اقتصادی دی .

2 – کمانی پلچکونه : ددی ډول پلچکونو تکنالوژی مشکله ده اما دعمودی قووپه وړاندی فوق العاده مقاومت لری لاندی شکل :




2 – شکل کماني پلچک

3 – بکس ډوله پلچکونه : ددی پلچکونو څخه په هغه ځایونو کی استفاده کیږی چی داساس خاوره ضعیفه اومقاومت یی کم وی . اویا په هغه ځایونوکی چی دترافیکو حجم دزیات وخت لپاره قطع نه شی اوترافیک بیاخپل فعالیت ته ادامه ورکړی . ددی ډول پلچکونوچت اوجانبی دیوالونه دسیخ لرونکی کانکریټ څخه جوړیږی . ددی پلچکونووایه د3 متروڅخه زیاته نه وی . اوارتفاع یی باید د60cm څخه کمه نه وی . لاندی شکل :




3 – شکل باکس ډوله پلچکونه

4 – پایپ ډوله پلچکونه : کله چی داوبو اندازه زیاته او دپلچک په سردخاوروواوسرک دطبقو ضخامت زیاتیږی نوددی ډول پلچکونو څخه استفاده کیږی . نوموړی پلچکونه دپایپونوڅخه چی قطریی له 75cm څخه تریومترپوری وی جوړیږی . دپایپونو تعداد دباران اواوبو په اندازه پوری اړه لری . لاندی شکل .




4 – شکل . پایپ ډوله پلچک

# Design of slab culvert دسلب ډوله پلچکونو ډیزائن

دپلچکونو ډیزائن نظردهغه شکل اوداستعمال ځای ته فرق لری . دپلچکونود ډیزاین پروسه په لاندی ډول ده .
1 – دپلچک څخه دعبوری وسایلو(اوبه , ترافیک اوداسی نور) دمقدارمعلومول .
2 – دپلچکونو داستنادی دیوالونو ډیزائن (Design of retaining walls) .
3 – دپلچکونو داتکائی پایو ډیزائن (design of abutments).
4 – دپلچکونو دفرش , دخولی اوخروجی لمنو ډیزائن اومحاسبه .
5 – دپلچکونو دسلب اوکمان ډیزائن اومحاسبه .
دلته لمړی دپلچکونو دسلب محاسبه اجراء کوو , ددی کارلپاره لمړی هغه بارونه چی په سلب باندی عمل کوی جمع کوو اووروسته دسلب داعظمی مومنت په مرسته دهغه لپاره دسیخ مقدارپیداکوو .

دیادولو وړده چی دپلچک په سلب باندی ژوندی باردخطرناک ترکیب څخه په نظرکی نیسو (دافرضیه دپل دډیزاین په برخه کی مفصله بیان شویده ).

لمړی مثال( first example) :

یو پلچک چی 2M ارتفاع او3M وایه لری په داسی حال کی محاسبه کړئ چی دموټرژوندی بارپه هغه باندی 14Tons وی , اود سرک ضخامت له لاندی طبقو څخه جوړشویدئ :
اوله طبقه ( sub base course) د10cm په اندازه له جغل څخه په نظرکی نیول شویده .
دوهمه طبقه ( Surface course) د6cm په اندازه دریگ څخه په نظرکی نیول شویده . دفولادواوکانکریتو له لاندی مارکونو څخه استفاده شویده . دکانکریتومارک(1:1, 5:3) M200 . دسیخانو مارک (مقاومت)
$R_s = 1400 K_g/cm^2 (A-I)$ ,
نوټ : دلته یوازی دپلچک تخته(سلب) محاسبه کوو اودهغه اتکائی پایی اواستنادی دیوالونه په څلورم فصل کی ترڅیرنی لاندی نیسو.

حل(solution) :

1– لمړی دسلب مؤثره (محاسبوی وایه ) ټاکو:

$L_{eff} = L + 2(20) = 3,4M$

20cm یوی اتکاء ته دسلب دننوتلو اندازه ده.




5 – شکل

2 – دبارونو جمع کول اودهغه له اثره مومنټونه :

الف - مړبار(dead load) :

Dead load due to wieght of Slab=0,2 · 2,4 · 1m=0,48Ton/$m^2$

Dead load due to wieght of Sand Course=0,06 · 1,6 × 1m=0,096Ton/$m^2$

Live load due to wieght of Gravel Course=0,1 · 2,2 · 1m=0,22Ton/$m^2$

$$\sum \text{Dead Loads}=0{,}48+0{,}096+0{,}22=0{,}796\text{Ton/m}^2$$

$$M_{max}=\frac{q\cdot l^2}{8}=\frac{0{,}769\cdot 3{,}4^2}{8}=1{,}15\text{T.M}$$

ب- ژوندی باراودهغه له اثره مومنټ : دژوندی بارله اثره مومنټ دلاندی رابطی په مرسته پیداکوو.

$$M_{max}=(\frac{(1,64\cdot S)+1}{16})\cdot P=(\frac{(1,64\cdot 3,4)+1}{16})\cdot 14\text{T}=5{,}754\text{T}\cdot\text{M/M}$$

په پورته رابطه کی S دپلچک وایه . 1, 64 – دثابت عدد دی او P دموټردبار څخه عبارت دی .

ج – دضربی له اثره مومنټ : دضربی ضریب په اعظمی قیمت 0,3 په نظرکی نیسو .

$$M_{max}^{imp}=0{,}3\cdot 5{,}754=1{,}726\text{T}\cdot\text{M/M}$$

دضربی ضریب کولای شو دلاندی رابطی په مرسته پیداکړو:

$$I=\frac{50}{3{,}28\cdot S+125}=\frac{50}{3{,}28\cdot 3{,}4+125}=0{,}36\leq I_{max}=0{,}3$$

په پورته رابطه کی S دپلچک وایه ده .

مجموعی مومنټ :

$$\sum M_{max}=M_{max}^{DL}+M_{max}^{LL}+M_{max}^{imp}=1{,}15+5{,}754+1{,}726=8{,}63\text{T}\cdot\text{M/M}$$

3 – دسلب ضخامت(ډبلی ) چک کول :

دسلب ضخامت دلاندی رابطی په مرسته پیداکوو:

$$M_{max}=R\cdot b\cdot d^2 \quad , \quad d=\sqrt{\frac{M_{max}}{R\cdot b}}\cdots\cdots(*)$$

په پورته رابطه کی :

d - دسلب دعرضی مقطع فعاله (مؤثر ) عمق (ژوروالی ) , b - دتسمی عرض . R - دمقاومت مومنټ له ضریب څخه عبارت دی چی دلاندی رابطی په واسطه په لاس راځی .

$$R=\frac{F_c}{2}\cdot J\cdot K\cdots\cdots(**)$$

J - دداخلی قووبازوچی( دفشاری ناحیی دثقل د مرکزاوکششی ناحیی دسیخ ترمرکزه فاصله ښیئ)او دلاندی رابطی په واسطه پیداکیږی :

$$J=J_d-\frac{K_d}{3}=1-\frac{K}{3}\cdots\cdots(***)$$

K - دتشنجاتو دژوروالی ارتفاع , چی کولای شو دلاندی رابطی په واسطه هغه پیداکړو :

$$K=\frac{1}{1+\frac{F_s}{F_c\times m}}\cdots\cdots(****)$$

نولرو چی :

$F_c^{'}$=M200

$F_c=0,35\cdot F_c^{'}=0,35\cdot 200 \Rightarrow 70K_g/cm^2$

K=0,404

$J=1-\frac{K}{3}=1-\frac{0,404}{3}=0,87$

$M_{max}=R\cdot b\cdot d_0^2$

$d_0=\sqrt{\frac{M_{max}}{R\cdot b}}=\sqrt{\frac{8,63\cdot 10^5}{12,3\cdot 100}}=26,5cm$

$D=d_0+a=26,5+3,5=30cm$

$a=3,5cm$ دسیخانو ساتونکی (محافظوی ) طبقه ده لدی ځایه دسلب ضخامت 30cm قبلوو .

4 – دفولادواندازه(دسیخانومقدار) : داعظمی مومنټ په مرسته دکششی ساحی دسیخانو مساحت په لاندی ډول پیداکوو:

$$A_s=\frac{M_{max}}{F_s\cdot J\cdot d_0}=\frac{8,63\cdot 10^5}{1400\cdot 0,87\cdot 26,5}=26,7cm^2$$

دنورم له مخی 20mm قطرلرونکی سیخان په کششی اوفشارساحوکی اچوو. لدی ځایه دسیخانو تعداد په لاندی ډول په لاس راوړو :

$$A_s^1=\frac{\Pi\cdot d^2}{4}=\frac{3,14\cdot 2^2}{4}=3,24cm^2$$

$$N=\frac{A_s}{A_s^1}=\frac{26,7}{3,24}\cong 8nos$$

$8\phi 20mm@12,5cmC/C$

$A_s^1$ - دیوه سیخ دعرضی مقطع مساحت دی .

دفشاری ناحیی سیخان دکششی ناحیی دسیخانوله نیمایی ( 50%)څخه په لاس راځی یعنی :

$$A_{S2}=\frac{50\%\cdot 26,7}{100}=13,35cm^2$$

$$N_2=\frac{A_s}{A_s^1}=\frac{13,35}{\frac{3,14\cdot 2^2}{4}}\cong 5nos$$

$5\phi 20mm@20cmC/C$

ویشلی سیخان دسیخانو دفیصدی له مخی په لاندی ډول پیداکوو:

$$P=\frac{67}{\sqrt{Se}}=\frac{67}{\sqrt{3,4}}=36,33\%$$

$$P=\frac{36,33}{100}\cdot 26,7=9,71cm^2$$

$$\phi=14mm=\frac{\pi d^2}{4}=\frac{3,14\cdot 1,4^2}{4}=1,53cm^2$$

$$n_b=\frac{9,71}{1,53}=6$$

دپلچک دسیخبندۍ شیما په لاندی ډول ده :




6 – شکل .دسلب دسیخبندۍ شیما

دوهم مثال (second Example):

دلاندی ارقامو په مرسته یومستطیلی مقطع لرونکی پلچک دروسی میتود په مرسته ډیزائن کړی؟ (اول شکل) دپلچک طول 6m , دپلچک عرض 1m , دپلچک ارتفاع 1m , اودډیزائن لپاره دکانکریتوله M200 (1:1.5:3) مارک څخه استفاده شویده , دکانکریتو دکششی مقاومت مارک $R_p$=7,2 Kg/cm$^2$ دکانکریتو دانحنائی مقاومت مارک Ru=100 Kg/cm$^2$ , دA-1 صنف (لشم اوبنوی)سیخانو څخه استفاده شویده چی دهغه کششی مقاومت Ra=2100Kg/cm$^2$ دی , دپلچک دسلب ضخامت په مقدماتی ډول20cm په نظرکی نیول شویدی . دخاورودطبقی ضخامت په پلچک باندی 0,25m په نظرکی نیول شویدی .

حل(solution) :

لمړی په پلچک باندی عمل کوونکی بارونه(موقتی او دائمی ) جمع کوو . او دهرډول بارلپاره1,2 داضافه-باری ضریب په نظرکی نیسو .

Dead load due to wieght of Slab=0,2·2500 ·1m=500 ·1,2 = 600$K_g$/m$^2$

Dead load due to wieght of Siol Course=0,25·1600·1m=400 ·1,2 =480$K_g$/m$^2$

Live load due to wieght of Snow=100 ·1,2 =120$K_g$/m$^2$

Other Live Loads = 15000 · 1,2 =18000$K_g$/m$^2$

$\sum$ Loads=600+480+120+18000=19200$K_g$/m$^2$

اوس باید دامعلومه کړو چی سلب په کوم حالت کی قرارلری (ګادری , غیری ګادری )

L/b=5/1=5>2

لدی ځایه معلومیږی چی دپلچک تخته ( سلب )دګادری سلبونو په شکل ډیزائن کیږی یعنی فعال سیخونه تنها په لنډطرف کی محاسبه کیږی مګرددی لپاره چی بارونه سیخانو ته په مساوی ډول نقل شی اوپه اوږده طرف کی ددرزونو له منځ ته راتګ څخه مخنیوی وشی نو $5\phi$10mm په هرمتر(یوه تسمه )کی په نظرکی نیسو.دلته دهرڅه نه مخکی دوایی سنجشی (محاسبوی ) اوږدوالی په لاس راوړو یعنی :

$L_o$=b+2(0,15)=1+2(0,15)=1,3m

په پورته رابطه کی 0,15m دپلچک اتکایی پایی ته دسلب دیوه طرف له ننوتلی برخی څخه عبارت ده . دتختی په مابین کی اعظمی انحنائی مومنټ دلاندی رابطی په واسطه پیداکوو :

$$M_{max} = \frac{q \cdot L_o^2}{8} = \frac{19200 \cdot 1,3^2}{8} = 4056 Kg/m$$

په پورته رابطه کی :

q– دبارونو مجموعه , $L_0$ - دسنجشی (محاسبوی) وائی اوږدوالی .

د $A_o$ ضریب پیداکوو :

$$A_o = \frac{M_{max}}{R_u \cdot b \cdot ho^2}$$

دسلب فعاله ارتفاع په لاندی ډول پیداکوو:

$h_o=h-a=20-2=18cm$

$$A_o=\frac{405600}{100\cdot100\cdot18^2}=0,125cm^2$$

د $A_o$ پیداشوی ضریب لپاره $\gamma_o$ دلاندی رابطی په مرسته پیداکوو .

$\gamma_o=1+\sqrt{1-2A_0/2}=0,935$

دسیخانو مساحت مساوی دی په :

$$F_a=\frac{M_{max}}{Ra\cdot ho\cdot\gamma o}»12,31cm^2\Rightarrow \text{ use }(8\varphi14mm)(A\text{-}1)$$

دساختمانی شرائطو په بناء داوږده طرف لپاره $5\phi10mm$ سیخان د A-1 له صنف څخه په نظرکی نیسو.

دعرضی قوو په وړاندی دسلب آزموینه :

معلومه ده چی عرضی (غوڅونکی ) قوی په اتکاوو کی زیات عمل کوی نوځکه په اتکاوو کی عرضی قوی محاسبه کوو اودلاندی رابطی په مرسته دهغه قیمت پیداکوو:

$Q_{max}=Q_l=Q_r=0,5q\cdot l^2=0,5\cdot19200\cdot1,3=12480Kg$

په پورته رابطه کی :

$Q_r$ - دپلچک په ښی اړخ کی عرضی قوه , $Q_l$ - دپلچک په چپ اړخ کی عرضی قوه .

ددی لپاره چی قناعت موحاصل شی لاندی شرط ترآزموینی لاندی نیسو :

$Q_{max}\le Rb\cdot b\cdot h_o\Rightarrow7,2\cdot100\cdot18=12960Kg$

$Q_{max}=1240Kg<12960Kg$

څرنگه چی عرضی قوی دمجازی حد څخه تجاوزونه کړ نوسلب دعرضی قوو په مقابل کی پایداری لری (دعرضی قوو په وړاندی سیخانو ته ضرورت نشته اوکانکریټ کولای شی چی عرضی قوی پورته کړی ) .

دریم مثال ( $3^{rd}$ example):

یوپلچک چی دکانال له مسیرڅخه تیریږی او ابعاد ئی (5,3,2,5) , (L,B,H) دی په داسی حال کی ډیزائن کړئ چی په پلچک باندی 10T ژوندی بارعمل وکړی , دسلب دپوښښ طبقه(قیر) 4cm ضخامت لری , دکانکریټو اوسیخانو له لاندی مشخصاتو څخه استفاده شویده .

دکانکریټو مارک M200(1:1,5:3) دکانکریټو انحنایی مقاومت $R_T=7,2K_g/cm^2$ دسیخانو کششی مقاومت $F_s=2000K_g/cm^2$ دکانکریټوحجمی وزن $\gamma_c=2400K_g/m^3$ .

حل : Solution

دسلب مؤثره (فعاله ) وایه په لاندی ډول پیداکوو:

$L_o=L+2(0,15)=5+2(0,15)=5,3m$

په مقدماتی ډول دسلب ضخامت 20cm قبلوو(نوموړی ضخامت وروسته چک کیږی !) .

لمړی په سلب باندی عمل کوونکی بارونه جمع کوو:

Dead load due to wieght of Slab$=0,20\cdot2400\ \cdot1m=480K_g/m^2$

Dead load due to wieght of Asphat$=0,04\ \cdot1800\times1m=72K_g/m^2$

$$\text{Live load}=\frac{LL}{A}=\frac{10\cdot10^3}{5\cdot3}=666,7K_g/m^2$$

$\sum \text{Loads}=480+72+666,7=1218,7K_g/m^2$

دسلب په وایه کی اعظمی مومنت دلاندی رابطی په مرسته پیداکوو:

$$M_{max}=\frac{ql^2}{8}=\frac{5,3^2}{8}=10,902T.M$$

$$R_A=R_B=\frac{ql}{2}=\frac{5,3}{2}=T$$

د – مجموعی مومنټ :

$$\sum M_{max}=M_{max}^{DL}+M_{max}^{LL}+M_{max}^{imp}=1,15+5,754+1,726=8,63T\cdot M/M$$

3 – دسلب ضخامت په لاندی ډول چک کوو :

$$F_c^{'}=M200$$

$$F_c=0,35\cdot F_c^{'}=0,35\cdot 200\Rightarrow 70K_g/cm^2$$

$$K=0,404$$

$$J=1-\frac{K}{3}=1-\frac{0,404}{3}=0,87$$

$$M_{max}=R\cdot b\cdot d_0{}^2$$

$$d_0=\sqrt{\frac{M_{max}}{R\cdot b}}=\sqrt{\frac{8,63\cdot 10^5}{12,3\cdot 100}}=26,5cm$$

$$D=d_0+a=26,5+3,5=30cm$$

نودسلب ضخامت 30cm قبلوو .

4 – دسلب په کششی ناحیه کی دسیخانومساحت په لاندی ډول پیداکوو :

$$A_s=\frac{M_{max}}{F_s\cdot J\cdot d_0}=\frac{8,63\cdot 10^5}{1400\cdot 0,87\cdot 26,5}=26,7cm^2$$

دیوه سیخ قطر20mm په نظرکی نیسو نولدی ځایه دسیخانو تعداد په لاندی ډول په لاس راوړو :

$$A_s^1=\frac{\Pi\cdot d^2}{4}=\frac{3,14\cdot 2^2}{4}=3,24cm^2$$

$$N=\frac{A_s}{A_s^1}=\frac{26,7}{3,24}\cong 8nos$$

$8\phi 20mm@12,5cmC/C$

دفشاری ناحیی سیخان دکششی ناحیی دسیخانوله نیمایی ( 50%) څخه لاس ته راځی یعنی :

$$A_{S2}=\frac{50\%\cdot 26,7}{100}=13,35cm^2$$

$$N_2=\frac{A_s}{A_s^1}=\frac{13,35}{\frac{3,14\cdot 2^2}{4}}\cong 4nos$$

$4\phi 20mm@25cmC/C$

ویشلی سیخان په لاندی ډول پیداکوو:

$$P=\frac{67}{\sqrt{Se}}=\frac{67}{\sqrt{1,3}}=58,76\%$$

$$P=\frac{58,76}{100}\cdot 26,7=15,68cm^2$$

$$\phi=10mm=\frac{\pi d^2}{4}=\frac{3,14\cdot 1,2^2}{4}=1,13cm^2$$

$$n_b=\frac{15,68}{1,13}=14$$

**څلورم مثال($4^{th}$ example) :**

یوپلچک په داسی حال کی ډیزاین کړئ چی دهغه ارتفاع 1m اودهغه له دخولی برخی څخه مخکی داوبو ارتفاع H = 1,15 m اودپلچک په دننه کی داوبو ارتفاع hc = 0,8 m وي ؟

**حل(solution) :**

1 – هایدرولوژیکی محاسبات :

دپلچک په مخکینۍ برخه کی داوبو ډپ کیدنه دلاندی رابطی په مرسته پیداکوو :

$$H-h_T<20\%\cdot h_c$$

$$1,15-1=0,15<20\cdot\frac{0,8}{100}=0,16m$$

$$0,15m<0,16m$$

داوبومقداردآبریزی (Civil Engineering Hydrolics) دعمومی فورمول په مرسته په دی ډول پیداکوو :

$$Q_{water}=\varphi\cdot W_C\cdot\sqrt{2\cdot g(H\cdot h_c)}$$

په پورته رابطه کی :

$W_C$ - دهغی مقطع مساحت دی چی ددایروی اومربعی مقاطعولپاره دپلچک د نیمائی مقطع په اندازه نیول کیږی یعنی :

$$W_C=0,5\cdot b\cdot H=0,5\cdot 1\cdot 1=0,5$$

$\varphi$ - دسرعت ضریب چی ( 0.85 ÷ 0.82 ) په نظرکی نیسو.

لدی ځایه په پلچک کی داوبو دبهیدنی(جریان ) اندازه مساوی دی په :

$$Q_{water}=0,85\cdot 0,5\cdot\sqrt{2\cdot 0,73(1,15\cdot 0,8)}=0,425\cdot 0,9497=0,404m^3/\sec$$

$$V=\frac{Q_C}{W_C}=\frac{0,404}{0,5}=0,808m/\sec$$

2 – دپلچک په خروجی اودخولی لمنوکی دتحکیم کاری اندازه :

دتحکیم کاری اوږدوالی : دڅلورضلعی پلچک لپاره دتحکیم کاری اوږدوالی دلاندی رابطی په مرسته پیداکوو:

$$L_{Con}=(3\div 4)b=3\cdot 1=3m$$

دتحکیم کاری عرض دلاندی رابطی په مرسته پیداکوو:

$$B=2\cdot L_{con}=2\cdot 3=6m$$

په خروجی مجراء کی د تحکیم کاری عرض مساوی دی په :

$$S=0,35\cdot H=0,35\cdot 1=0,35m$$

د تحکیم کاری څخه وروسته مینځونکی (تخریب کوونکی )عمق مساوی دی په:

$$h_{scou}=2\cdot H\cdot\sqrt{\frac{b}{b\cdot 2,5\cdot L_{con}}}=2\cdot 1\cdot\sqrt{\frac{1}{1\cdot 2,5\cdot 4}}=0,182m$$

دمجراء په دخولي برخه کی د تحکیم کاری اوږدوالی مساوی دی په :

$$L_{con}=0,4\cdot L_{con}=0,4\cdot 3=1,2m$$

3 – دبارونو جمع کول :
په پلچک باندی ژوندی باراندازه دلاندی رابطی په مرسته پیداکوو:

$$W_L=\frac{100k_n}{1,2\cdot 1,6}=52,08KN/m^2$$

$$P_I=0,3\cdot 52,08=15,6KN/m^2$$

$$P_{L+I}=52,08+15,6=67,7KN/M^2$$

دخاورو فشاردلاندی رابطی په مرسته پیداکوو:

$$p_{soil}=k_0\cdot F\cdot H_0=1,5\cdot 18\cdot 1=27KN/M^2$$

جانبي فشاردلاندی رابطی په مرسته پیداکوو:

$$\mu=Tan^2(45-\frac{\varphi}{2})=Tan^2(45-\frac{20}{2})=0,49$$

دخاوری وزن دلاندی رابطی په مرسته پیداکوو:

$$q_1=0,49\cdot 1,5\cdot 18\cdot 1=8,82kn/m^2$$

$$q_2=0,49\cdot 1,5\cdot 18\cdot 2,2=29,1kn/m^2$$

$$q^1_{(L+I)}=\mu\cdot P_{L+I}=0,49\cdot 67,7=33,2kn/m^2$$

$$q_l^{\ 2}=\frac{100}{(2,4)(6,8)}=14,8kn/m^2$$

$$q_i^{\ 2}=0,3\cdot 14,8=4,48=4,46$$

$$q^2_{L=I}=19,2kn/m^2$$

$$q^2_{(L+I)}=\mu\cdot P_2\left(L+I\right)=0,49\cdot 19,2=9,4KN/M^2$$




7– شکل




مجموعی باراودهغه له اثره مومنټ :

$$q_3=p_{L+I}+P_{soil}+P_{slab}+W_{water}+W_{wall}+W_{fundation}+W_{chera} \Rightarrow$$

$$67,7+27+5+10+11,52+48,9+10=190,12kn/m^2$$

$$M=\frac{q_3 \cdot L^2}{8}=\frac{190,12 \cdot 3,4^2}{8}=274,7kn \cdot m$$

$$P_1=\frac{100}{1,2 \cdot 1,6}=26,04kn/m^2$$

$$P_L=26,04kn/m^2$$

$$P_I=0,30 \cdot 26,04=7,81kn/m^2$$

$$P_{L+I}=33,85kn/m^2$$

دپلچک په تخته کی اعظمی مومنټ په لاندی ډول پیداکوو:

$$M=\frac{P \cdot L^2}{8}=\frac{10 \cdot (1,6)^2}{8}=1,8T.M$$

دپلچک په اتکاوو کی عرضی قوه د لاندی رابطی په مرسته پیداکوو:

$$V=\frac{P \cdot L}{2}=\frac{10 \cdot 1,6}{2}=8T/m$$




9 – شکل

4 – دفولادودمقدار تعینول :

دسیخانومساحت دلاندی رابطی په مرسته پیداکوو:

$$As=\frac{M}{J\cdot d\cdot f_s}$$

دکانکریټو تشنجات دلاندی رابطی په مرسته پیداکوو:

$$f_c=0{,}45\cdot f_c^{/}=0{,}45\cdot 200=90k_g\,/\,m^2$$

دسیخانو تشنجات دلاندی رابطی په مرسته پیداکوو:

$$f_s=0{,}5\cdot f_y^{'}=0{,}5\cdot 3000=1500k_g/cm^2$$

دکانکریټو اوسیخانو مودولی نسبت دلاندی رابطی په مرسته پیداکوو:

$$m=\frac{Es}{Ec}=\frac{2{,}1\cdot 10^6}{3\cdot 10^5}=7$$

دتشنجاتو دژوروالی ضریب دلاندی رابطی په مرسته پیداکوو:

$$k=\frac{m\cdot f_c'}{m\cdot f_c'+f_s}=\frac{7\cdot 90}{7\cdot 90+1500}=0{,}296$$

$$j=1-\frac{k}{3}=1-\frac{0{,}296}{3}=0{,}9$$

$$As=\frac{180000}{0{,}9\cdot 16{,}3\cdot 1500}=\frac{180000}{22005}=8{,}2cm^2$$

دسلب مؤثرژوروالی دلاندی رابطی په مرسته پیداکوو:

$$d=h-\left(\delta+\frac{d}{2}\right)=20-(3+0{,}7)=16{,}3cm$$

دیوه سیخ مساحت مساوی دی په :

$$\frac{\Pi d^2}{4}=\frac{3{,}14\cdot 14^2}{4}=3{,}14cm^2$$

دنورم له مخی دپلچک په تخته کی له 14 ملی متره سیخ څخه استفاده کوو. نولدی ځایه دسیخانوتعداد دلاندی رابطی په مرسته پیداکوو:

$$\frac{8{,}2}{1{,}53}=5{,}35\approx 6 \qquad , \qquad 6\varphi 14mm@19\%_c$$

دسیخانو ترمنځ فاصله په لاندی ډول پیداکوو:

$$\frac{100-7}{6-1}=\frac{93}{5}=18{,}5CM$$

ویشلي سیخان په لاندی ډول پیداکوو:

$$P=\frac{67}{\sqrt{Se}}=\frac{67}{\sqrt{1,6}}=52,9\%$$

$$P=\frac{52,9}{100}\cdot 8,5=4,34cm^2$$

$$\phi=10mm=\frac{\pi d^2}{4}=\frac{3,14\cdot 1^2}{4}=0,763cm$$

دویشلو سیخانو تعداد مساوی دی په :

$$n_b=\frac{4,34}{0,785}=6$$

دسیخانو ترمنځ فاصله مساوی ده په :

$$\frac{100-7}{6-1}=30cm \qquad , \qquad 6\varphi 10mm@30\%_C$$

* * *

# دریم فصـــــــــــــــــل
# دپلچکونو برآورد(تخمین) Estimating of culverts

دهرډول ودانۍ دبرآورد کولولپاره لمړۍ دهغه مختلف ودانیز کارونه په ځانګوویشو لکه کنودنی , ډکونی , سنګ کاري , کانکریټ اچونه , سیم تاوی اوداسی نور. چی وروسته هره یوه ځانګه په شاخو ویشو مثلا" داوسپنیزوکارونو ځانګه په خپلوشاخو (اوسپنیزکارونه په ګاډر , پایه , سلب اوداسی نوروکی) ویشل کیږی . دهری ځانګی په لاس راغلی اندازه دهغه په قیمت کی ضربوو اود پیسو اندازه په لاس راځی . دلته دموادوله قیمت څخه صرف نظرکوو.

څرنګه چی مخکی مووویل پلچکونو له مختلفو برخو څخه جوړشویدی , نودبرآورد لپاره هره یوه برخه په جداجدا ډول په نظرکی نیسو .

په لمړی قدم کی دهغه اتکائی پائی یادیوالونه ( abutments ) له تهداب څخه دهغه ترپوښښ پوری په نظرکی نیسو اوهغه برآوردکوو.

په دوهم قدم کی دهغه پوښښ (سلب اویا کمان ) اوپاراپیتی دیوال (دماغه ) برآورد کوو .

په دریم قدم کی دهغه څلور وینګ دیوالونه (دهغه د تهداب په نظرکی نیولوسره) برآورد کوو .

ځمکنی کارونه (کیندنی ) تنهادتهداب لپاره اخستل کیږی .

کچیری دپلچک پوښښ دکمان په شکل وی نو پدی صورت کی هغه قسمت چی دکمان دتاج اوانجامو ترمنځ واقع دی معمولا دیوه مکعب مستطیل جسم په شکل په نظرکی نیسو اووروسته لاندی قسمتونه له هغه څخه کموو(deduct) .




1 – دکمان (قوس ) داخلی فضاء( arch opening )
2 – کمان (دپلچک پوښښ )
3 – دکمان دواړه اړخوته مثلثی برخی .
په مقابل شکل کی په ښکاره ډول لیدل کیږی .

شکل - 10

وینګ(ګلګیری یامحافظوی ) دیوالونه کیدای شی په مختلفوعرضی مقطعو طرحریزی شی مثلا ذوذنقه ئی , مستطیلی اونور. اکثروختونه په وینګ دیوالونو کی کوچنی سوری پریښودل کیږی ترڅو فلتری اوبه په بی خطره توګه هغه څخه تیری شی , خوپه برآورد کی داسوری په نظرکی نه نیول کیږی .

دلته یوازی دسلب ډوله پلچک برآورد کوو اودیوی نمونی په ډول ئی راوړو ترڅو وکولای شو دبرآورد له پاڼو سره آشنا شو .

مثال(example) :

یوسلب ډوله پلچک چی 1,5m وایه (عرض ) او4m طول(دسرک عرض ) لری دلاندی مشخصاتو په مرسته برآورد کړی پلچک ؟

الف –دپلچک تهداب له ډبرواو کانکریټی مصالح څخه د مصالح د (1:3:6) په نسبت په نظرکی نیول شویدی.

ب – دپلچک پوښښ (سلب ) داوسپنیزوکانکریټو څخه د1:2:4 په نسبت سره جوړشویدی .

ج – دسطحو پلستر دمصالح د 1:2 په نسبت سره په نظرکی نیول شویدی .

د – دسرک ضخامت 10cm دی چی داوسپنیزکانکریټ څخه د1:2:4 په نسبت سره په نظرکی نیول شوی .

ه – بیدون له تهدابو څخه نورټول دیوالونه دپخو خښتو څخه جوړیږی چی دهغه دمصالح نسبت 1:4 دی .

حل(solution) : لمړی دپلچک برآوردی شیما رسموو :

Section B-B









داندازه کولو او محاسبی فورم .

| شماره | دکاردبرخو مشخصات | تعداد | طول | عرض | ارتفاع (عمق) | مقدار | تشریحی نوټ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | Excavation in foundation | | | | | | |
| 1 | Abutments | 2 | 5,1 | 0,7 | 0,6 | 4,28 | |
| | Wing walls | 4 | 1,2 | 0,7 | 0,6 | 2,02 | |
| | | | | | | 6,3 cubm | |
| | Cement concrete 1:3:6 in foundation with stone Masonry | | | | | | 0,5 of earth work in excavation in item 1 |
| 2 | Abutments | 2 | 5,1 | 0,7 | 0,3 | 2,14 | |
| | Wing walls | 4 | 1,2 | 0,7 | 0,3 | 1,01 | |
| | | | | | | 3,15 cubm | |
| | Brick work in 1:4 cement mortar | | | | | | |
| | Abutments | 2 | 4,8 | 0,4 | 1,5 | 5,76 | Up to top of RCC slab |
| | Wing walls | 4 | 1,2 | 0,4 | 1,5 | 2,88 | Above RCC slab up to kerb |
| 3 | Parapets up to Kerb | 2 | 4,7 | 0,4 | 0,3 | 1,13 | |
| | Parapet above Kerb | 2 | 4,7 | 0,3 | 0,5 | 1,41 | Above kerb excluding coping |
| | Parapet coping | 2 | 4,9 | 0,4 | 0,1 | 0,39 | |
| | | | | | | 11,57 | |
| | Deduct : Bearing of RCC slab in Abutment | 2 | 4,8 | 0,3 | 0,2 | 0,57 | |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| No deduction for volume of steel | 2,016 | 0,2 | 2,1 | 4,8 | 1 | RCC work 1:2:4 in slab excluding steel & its bending but including centering shuttering & binding steel | 4 |
| L=2,1-2side covers +2 hooks = 2,1-(2×4)+(18×20mm) =2,38 | 40,46m | - | - | 2,38 | 17 | Steel bars including bending in RCC work 20mm Dia. bars Main straight bars 30cmC/C No=4,8/0,30+1=17 | 5 |
| | 40,64m | - | - | 2,54 | 16 | Main bent up bars 30cmC/C No=4,8/0,30=16 | |
| | 200,32Kg | = | 2,47× | 81,1m | | | |
| L=4,8-2end covers +3 hooks =4,8-(2×4cm)+(18× 10mm)=4,9m | 44,1m | - | - | 4,9 | 9 | 10mm Dia. Bars Distribution Bottom bars 25cmC/C | |
| | 19,60m | - | - | 4,9 | 4 | Distribution top bars | |
| | 39,49Kg | = | 0,62× | 63,7m | | | |
| 239,81Kg quintal | 239,81Kg | | = | مجموعی | | | |
| In between Parapets | 0,92cum | 0,1 | 2,3 | 4,0 | 1 | Cement concrete 1:2:4 wearing coat | 6 |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | Cement pointing 1:2 in walls ( هنگاف کاری) | 7 |
| | 19,74 | 2,1 | - | 4,7 | 2 | Face wall from 10cm below G.L up to bottom of coping inner side of | |
| Ht=(20+10+50) =0,8m | 7,52 | 0,8 | - | 4,7 | 2 | parapet excluding coping. | |
| B=(10+40+10+ 10)cm=0,7m. | 6,86 | - | 0,7 | 4,9 | 2 | Coping (inner edge .top outer edge & outer & side ) | |
| Up to kerb | 0,32 | 0,2 | 0,4 | - | 4 | Ends of parapet. | |
| Edge and under | 0,6 | 0,5 | 0,3 | - | 4 | Ends of parapet. | |
| Side | 0,32 | 0,2 | 0,4 | - | 4 | Ends of parapet. | |
| | 35,36 | | | | | | |
| | | | | | | Deduct: | |
| Including 10 cm below G.L and edge of RCC slab | 3,9 | 1,3 | | 1,5 | 2 | Rectangular opening | |
| | 1,69 | | | (0,5×1,3 ×1,3) | 2 | Triangular portion below earth slope | |
| | =5,59 | | | | | | |
| | 29,77sqr | مجموعی | | | | | |

Table ( 3) Abstract of estimated quantities of slab culvert

| Item No | Particulars or items of work | Quantities | Units | Rate Rs. P. | Percentage | Amount Rs . P. |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | foundation Excavation in | 6,3 | Cub M | | | |
| 2 | Cement concrete 1:3:6 in foundation with stone masonry | 3,15 | Cub M | | | |
| 3 | Brick work 1:4 cement mortar | 11,0 | Cub M | | | |
| 4 | RCC work 1:2:4 in slab excluding steel & its bending but including cantering shuttering & binding steel | 2,016 | Cub M | | | |
| 5 | Steel bars including bending in RCC work | 2,398 | Quintal | | | |
| 6 | Cement concrete 1:2:4 in wearing coat | 0,92 | Cub M | | | |
| 7 | Cements pointing 1:3 in walls | 29,77 | Sqr M | | | |
| Add 5% to 3% for contingencies & 2% for work charged establishment | | | | | | |

دبعضی ساختمانی موادو حجمی وزنونه چی په دی کتاب کی دهغه څخه استفاده کوو.

| No | دساختمانی موادو مشخصات | حجمی وزن | No | دساختمانی موادو مشخصات | حجمی وزن |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | پخه خښته له (سمنت +ریگ ) | 1800 | 23 | ذغال سنگ | 1200 |
| 2 | پخه خِښته له ( سمنت +ریگ+ چونه) | 1700 | 24 | داری بوره | 300 |
| 3 | دپخی خښتی دیوال له(دچونه+ ریگ) | 1600 | 25 | دصنوبرلرگی | 550 |
| 4 | دغیرمنظمو طبعی ډبرودیوال | 2400 | 26 | دچنار لرگی | 400 |
| 5 | دمرمر, گیرانیت اوسختوډبرودیوال | 2400 | 27 | ساختمانی نمد | 150 |
| 6 | دچونی ارریگی ډبرودیوال | 2000 | 28 | منرالی پنبه | 200 |
| 7 | دسپکوډبرودیوال | 1400 | 29 | دمنرالی پنبی کاغذ | 250-150 |
| 8 | کانکریتی دیوال له(غرنی +سیندی جغل ) | 2300 | 30 | اوبه | 1000 |
| 9 | اوسپنیزکانکریت | 2400 | 31 | وچه واوره | 200 |
| 10 | تپک شوی وچه مټنه خاوره | 1440 | 32 | لمده واوره | 400 |
| 11 | وچه خاوره | 1760 | 33 | یخ | 900 |
| 12 | مرطوبه خاوره | 1600 | 34 | دتراسو ډبره | 2200 |
| 13 | وچ ریگ | 1600 | 35 | دموازائیک ډبره | 2000 |
| 14 | مرطوب ریگ | 2000 | 36 | قیر | 1800 |
| 15 | دچونی ډبره | 1900 | 37 | لخ – کړکی | 400 |
| 16 | اوبه نه رسیدلی چونه | 1000 | 38 | شیشه | |
| 17 | دسمنتو اوریگ مصالح | 1800 | 39 | عادی شیشه | 2500 |
| 18 | مصالح له (سمنت + ریگ +چونه) | 1700 | 40 | انساج لرونکی شیشه | 200 |
| 19 | مصالح له (چونه +ریگ ) | 1600 | 41 | نم جنی زراعتی خاوری | 1650 |
| 20 | مصالح له (گچ + ریگ ) | 1100 | 42 | چدن | 720 |
| 21 | وچ لرگی | 600 | 43 | المونیمی الیاژونه | 2800 |
| 22 | دبلوط اوارچی لرگی | 800 | 44 | فولاد | 7850 |

* * *

# ځلورم فصـــــــــــــــــل
# (bridge design) دپل ډیزائن

دسرک عبوری عرض په رود باندی دپل دساختمان څخه عبارت دی . دپل عرض دسرک په عرض , دترافیکو په حجم او دهغه طول داوبوپه مقدار پوری اړه لری .

Reinforced Concrete is particularly well suited for use in bridges of all kinds Because of its durability, rigidity and economy as well as the comparative ease with which a pleasing appearance can be achieved.

Followings are some of the most common Concrete bridges:

- Slab Bridges.
- T-Beam Bridges.
- Precast Girder bridges.
- Composite Steel-Concrete Bridges.
- Composite Prestressed-Concrete Bridges.
- Arch Concrete Bridges.
- Post-tension Prestressed Concrete Box Girder Bridges (spans upto 300m).

**کماني پل(Arch bridge) :**

- مؤثر شکل لری اوداډول پلونه عمودی وزنونه ښه تحمل کوی .
- زیات تکنالوژیکی ارزښت لری . ددی ډول پلونو یوه ښه نمونه د چین په مملکت کی دوان کسین په نامه کمانی پل دی چی تقریبا" 413 متره وایه لری .
- لمړنی کمانی پل دسویسی انجینر( Robert maillart ) لخوا ډیزاین شو چی 88,5m وایه یی لرله .

**سلب ډوله پل(Slab bridge) :**

- ساده ساختمانی شکل لری .
- کم تکنالوژیکی ارزښت لری . کیدای شی په یکریخت یا فابریکه ئی شکل جوړشی .

**دپل دډیزاین لپاره میتودونه :**

هغه میتودونه چی دپلونو په ډیزاین کی له هغه څخه استفاده کیږی په لاندی ډول دی :

1- BS 5400 – united kingdom
2- Ontario Highway Bridge design code (OHBDC)
3- IRC (Indian Rout Congress)
4- ASSHTO American code .
5 – ACI (Amirecan concrete Institute)

دپورته میتودونو له جملی څخه دACI , ASSHTO اوIRC میتودونه په زیاتره هیوادونوکی معمول دی . چی دلته مونږ دASSHTO له میتودڅخه استفاده کوو.

The specification contains provisions governing loads and load distribution as well as detailed provisions relating to design and construction.

The specification prefers to use the service load method for the design of bridges.

Loads: Followings are some of most important loads applied considered in the design of bridges.

بارونه : بعضی مهم بارونه چی دپل دډیزائن په وخت کی په نظرکی نیول کیږی په لاندی ډول دی :

**A – مړه بارونه (Dead loads):**

The dead load on a superstructure is the weight of all superstructure elements Such as deck, Wearing coat, railing, parapet, stiffeners and etc.

سلب , دپل دپوښښ ساختمان , دیوار , کتاره , سخت کوونکی مواد, داوبواوحرارت عایق مواد اوداسی نوردمړوبارونو له جملی څخه دی .

:(live loads)ژوندی بارونه – B

**Truck Loadings:**
The live load of the AASHTO specification Consists of standard, idealized trucks Or of live Loads which are equivalent to a series of trucks.
Two systems of loading are provided: The **H** –loading and the **HS**-loading, as shown bellow. The **H**- loading represents a two-axle truck; the HS-loading represents a two-axle tractor plus a single axel semi trailer.




شکل – 12_Standard HS-Truck

دنورمونو لخواد پل لپاره دوه ډوله دموټرو ژوندی بارونه په نظرکی نیول شویدی چی دH او HS لاریو(موټرو)بارونه دی .
دH باردوه اکسل لرونکو موټروله باروڅخه عبارت دی او د HS باردری اکسل لرونکو لاریو له بارونو څخه عبارت دی .لاندی شکل ته وګوری .

The number of loading indicates the gross weight in tons of the truck or tractor. The gross weight is divided between the front and rear axles .




شکل – 13 Standard HS-Truck

دH لاری په لاندی شکل کی ښودل شویده :




14 – شکل

: (selecting of loads)دبارونو انتخاب

The AASHTO specifications provides that bridges supporting interstate highways shall be designed for **HS20-44** loading or an alternate military loading of two axles, for other highways which may carry heavy truck traffic the minimum live load shall be **HS15-44 .**

In the design of bridges supporting local highways **H20-44** Loadings, one Axle load of 106KN. May be used instead of the axle of 142KN.

<u>Application of loading:</u>

Followings are some of more important rules for applying the selected AASHTO loading:

دAASHTO نورم لخوا دبارونو دانتخاب لپاره بعضی قاعدی په لاندی ډول بیان شوی چی :

1- The lane loading or standard truck loading shall be assumed to occupy a width of 3 m. these Loads shall be placed in 3.6 m width design traffic lanes spaced across the entire bridge road Way width in numbers and positions required to produce the maximum stress Road way.

1 – خطی بار: دستندرد لاریو بارچی 3m عرض اشغالوی . چی دډیزائن لپاره 3,6m دسرک په عرض باید په نظرکی ونیول شی .

Width from 6 to 7.3 m shall have two design lanes, each equal to one-half the roadway width.

2- Each 3 m lane loading or single standard truck shall be considered as a unit, and fractional Load-lane widths or fractional tucks shall not be used.

3-In slab design the centerline of the wheel shall be assumed to be 30 cm from the face of the Curb While for beam design it is considered to be 60cm.

☹Impact ) ضربه

Live load stresses due to truck are increased to allow for vibration and sudden application of the Load. The increase is calculated by the formula.

**I = 50/ 3.28L+125< 30%**

Where I is the impact factor and L is the length of bridge. The max impact factor to be used shall be 30 percent.

پہ سلب باندی دټایرونودبارویشل (distribution of wheel load on slab):

